# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# عیسی او لعزر



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

مریم او مرتا پریشانه وې. ځکه چې د هغوئ
ورور لعزر ډېر زیات ناجوړه وو. د هغهٔ
خوېندو ته دا پته وه چې
کېدے شی چې لعزر مړ
شی. نو هغوئ عیسی
مسیح له خبر ورولیږلو.
هغهٔ د بیت عنیاه دې
وړوکې
خاندان سره
مینه کوله.



کله چې عیسی مسیح د لعزر په باره کښې واورېدل نو هغهٔ خپلو شاګردانون ته ووئیل، چې دا بیماری د مرګ نهٔ ده. حالانکې عیسی مسیح څهٔ دوه میله لرې وو. خو هغهٔ ته پته وه چې لعزر سره به څهٔ کیږی.



عیسی مسیح بیت عنیاه ته د تلو نه دوه ورځې نور هم ایسار
شو. بیا هغه داسې څهٔ ووائی چې په هغې باندې د هغهٔ
شاګردان حېران او پریشان شې. لعزر مړ شوے دے او زهٔ
خوشحاله یم چې زهٔ هلته کښې نهٔ وم، ځکه ؛ې تاسو ایمان
راوړئ. د دې
عجیبه الفاظو
څهٔ مطلب
وو؟ د
عیسی
مسیح د څهٔ
کولو اراده
وه؟





کله چې
عیسی مسیح بیت
عنیاه ته ورسی نو د لعزر د
مرګ څلور ورځې شوې وی.
د هغهٔ لاش یې په کفن
کښې انغښتے
وو او د غار په
شکل یو قبر کښې
یې کېښودے وو.

مرتا عیسی مسیح سره د ملاوېدو د پاره لاړه. نو عیسی هغې ته ووئیل چې ستا ورور به بیا راژوندے شی. نو مرتا ورته په جواب کښې ووئیل آو ما ته پته ده چې هغه به د قیامت په ورځ بیا راژوندے شی.



هغې دا سوچ کولو چې بیا د لعزر د لیدو د پاره به مونږ د قیامت د ورځې انتظار کوو. خو د عیسی مسیح مطلب بل څۀ وو.





عیسی مسیح مرتا ته وفرمائیل چې
زهٔ قیامت او ژوندون یم. څوک
چې په ما ایمان ساتی کهٔ هغه
مړ هم شی نو هغه به ژوندے
وی. د مرتا په عیسی مسیح
باندې ایمان وو. او
هغې ته پته وه چې
عیسی مسیح د د
خدائ پاک زوئ
دے. خو هغهٔ د
لعزر مدد څنګه
کولے شو.

ټول خلق خفه وو ځکه چې لعزر مړ شوے وو. د هغۀ خور مريم ژړل. او د هغې ملګرې چا چې به مريمې له تسلی ورکوله هغوئ ټولو هم ژړل.



عیسی مسیح خلقو سره د
لعزر قبر له لاړو. او د
قبر خولې باندې یو لوئ
کاڼے اېښودے شوے وو.



عیسی مسیح حکم وکړو چې دا کاڼے
لرې کړئ. مرتا ورته په جواب
کښې ووئیل، اے مالکه! اوس
خو به یې بوئی کړے وی
ځکه چې د هغۀ
د مرګ خو
څلور
ورځې
وشې.





د عیسی مسیح
په حکم سره سړو
هغه کاڼے لرې کړو. بیا
عیسی مسیح خپل آسمانی
پلار نه دعا وغوښتله. عیسی
مسیح یو داسې معجزې کولو
والا وو چې خلق په دې
باندې پوهه شی چې هغه
خدائ پاک
رالیږلے دے.

بیا عیسی مسیح
په اوچت آواز سره
ووئیل، لعزره، لعزره بهر
راووځه. خلقو به ډېر په
حېرانتیا سره قبر ته کتلی
وی. آیا عیسی مسیح به یو
مړ کس ژوندے کړی؟




آو جی!
لعزر د
قبر نه
ژوندے
بهر راووتلو،
او هغه په
کفن کښې
انغښتے وو.

عیسی مسیح وفرمائیل، د دهٔ نه کفن لرې
کړئ او پرې یې ږدئ چې ځی. دا د
خوشحالئ خبره وه، د هغه خلقو
ژړا په خندا باندې بدله شوه.



عیسی مسیح خپل کلام پوره کړو.
او لعزر دوباره ژوندے شو. صرف
د خدائ پاک زوئ مړ شوی انسان
له ژوند ورکولے شی.



چا چې دا معجزه ولیده نو په هغوئ کښې ډېر خلق داسې وو چې هغوئ په عیسی مسیح باندې ایمان راوړلو. خو څۀ کسان داسې وو چې هغوئ فریسیانو امامانو له دا خبرې یوړو، نو هغوئ د ډېر حسد په وجه باندې د هغۀ د قتلولو منصوبه جوړه کړه. خو کله چې عیسی مسیح د دې نه خبر شو نو هغه د څۀ مودې د پاره د هغوئ د خوا نه لاړو.



# عیسی او لعزر

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یوحنا ۱۱

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

52

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدایٔ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدایٔ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدایٔ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زویٔ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولیٔ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدایٔ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدایٔ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زویٔ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولیٔ او خدایٔ سره روزانه خبرې وکړیٔ، یوحنا۳:۱۲